سلاح الدین سعیدی
۲۰۱۹/۰۳/۲۷

# د سولې پروسه او پاکستانۍ مکارۍ لوبې!

## (محب ۷ خلیلزاد)

سوله او با عزته سوله سیاسي مصالحه او مذاکره د افغاني ټولو وړ او لویو خواو سره یو ضرورت، شهامت، انسانیت، اسلامی او انساني او درست سیاسي موضع او عمل دی. دغي پروسي ته نباید د استخباراتي او دوکي پروژې په توګه وکتل شي !
که مونږ افغانان د با عزته سولې او استقرار اجماع لرو چي لرو، د انساني تجربه شوو علومو دا اجماع هم ده چي چېرې عدالت نه وي هلته مستقره او دوامداره سوله نه شي راتلای.
پردې هم د علم اجماع ده چي په هغه ټولنه کي استقرار نه شي راتلای چي هلته په سیاسي ستیج کي د ملت له لارې د ټولني رېښتینی سیاسي ځواکونه حضور و نه لري .
دغه کي هم د علم اجماع ده چي قوي حاکمیتونه د ملت د ارادې پر بنیاد مېنځ ته راتلای شي او دوی دي چي ټولنه کي با اتوریته او قوت کار کولای او د ستړو خدماتو جوګه کېدای شي. که د ملت اراده د حاکمیت په جوړېدو کي تمثیل نه شي، د معاملو پر بنیاد او د بهرتیو استخباراتو د فیصلو پر بنیاد حتی مجرب د اکسفورډ د پوهنتون متخصص استادان هم د ښه خدمت جوګه نه شي کېدای. تقوی، مسلکي پوهه او سیاسي مشروعیت ددې مجموعي مکمل او بشپړ انځور دی او ددې کل د هر واحد کمبود دولتدارۍ کي د سختو مشکلاتو او د تجرید شوو حاکمیتو بې کفایته تصویزر کېدای شي او دي
په سیاسی ستیج کي د ملت او ټولني د سیاسي ځواکونو حضور په عالم اسباب کي د ښې دولتدارۍ یو د مهمو لاملونو دی چي د مشروعیت مسأله حلوي. خو د کلکو دروازو شاته د ملت د سرنوشت په هکله د ملت له حضوره پرته د مقدماتي توافقاتو پر ځای یو بل ته یا درېم کس او خوا مقابل ته د کوټه والدار او اوالدار په ویلو او پټو معاملو نه شي کېدای او د منلو نه دي. دي برخه کي لنډې لارې ( شارټ کټونه) نه شته او نه شي منل کېدای .
مصالحه او توافقات باید د تدریج او معینو پروسیجرو سره سر ته ورسي .
که طالب لوری اعتقاد لري چي دده د خپل په تعبیر اسلامی حاکمیت د جوړېدو ټکل لري او د افغانستان اساسي قانون او افغان حاکمیت دغه ساختار نه مني او رنګول غواړي. ددوی دغه باور او اعتقاد ددوی حق او مبارک یې. مصالحه د خپلو سپینو او خپلو نسخو نه د د تېرېدو خبر نه ده. خو که طالب پردې راسره توافق ونکړي چي یا حاکمیت راتسلیم کړه او یا یې د پاکستان د ملیشو سره یوځای حاکمیت تر لاسه کوم او پورته اعتقادات په زور د ملت نه د هغو د مشروعیت له اخیستو پرته او د خپلي شوراء د فیصلي پر بنیاد عملي کوم، چي همداسي هم اظهارات لري او وایي د تا سره خبرې نه کوم او الحق لمن غلب. یا به سیاسي قدرت راکوې او یا دا هم د ای اس ای ټوپک او اول دې ستا متحدین لاړ شي او د اس اس ای برنامو او قدرت سره درځم

او درنه قدرت اخلم نو بيا کابل _ افغاني حاکميت او متحدين يي په، سر کي امريکه بايد د طالب پر ځای پاکستاني رياست ته خطاب شي چي ستا په ښارو او مرکزي مدو ته نږدې اوسېدونکي طالب او د ټولو تروريسني مراکز بند کړي او بله لار نه شته بې له جنګ.
ملت او نړۍ ته ويل په کار دي چي ما سوله او مذاکره غوښته او ټوله هڅه مي هم وکړي او دادی تاسي شاهد ياست، خو پاکستان راباندې د طالب په ترور او دهشت، د خپلو مليشو په زور جنګ تحميلوي او زمونږ د سولي برنامه زما د تسليمي برنامه تعبيروي نو بله لار نه شته بې له جنګ .
امريکې، نړۍ، او مسلمان ملت ته په کار دي چي پر متجاوز پاکستان متحد عمل وکړي.
د پاکستاني غېر مشروع سرطاني غدې او اپنډکس اساسي چاره کول په کار دي او کله چي دغه سرطاني غده رفع او له مېنځه لاړه، پښتنو او بلوچو خپل حق تر لاسه کړ نو بيا په هماغه ورځ دې ټول بهرني هېوادونه له افغانستانه وځي او بيا دې طالب که د جنګ لار نيوله رامخ ته شي .
تصادې نه ده چي طالب ملاعباس او شاهين د پاکستان د خواست پر بنياد د افغانستان د امنيتي ځواکونو بيا کباړ کول غواړي.
دوی دا کار او دا افغان ضد جنايت يوځل د مجاهدينو په لاس وکړ. نور نو افغان ولس دا نه شي منلای .
دي برخه کي د جناب خليلزاد مقدماتي توافقات بايد د افغانستان او امريکې د رسمي توافقاتو سره منطبق شي.
دا استعماری ثبوت وي که امريکا د افغان لوري په عوض پاکستان ته ( طالب ته) د افغان اولس عزت او شرف پټه معامله او خيرات کړي!
مونږ استعماري برخورد نه شو منلای او دا امريکايی حرکت به د مستعمرې سره د برخورد او معاملي معنا ولري.
سياسي مصالحه کي شوو افغاني تعهداتو ته بايد صادقانه متعهد پاتي او عملي وشي. دا کار او تواغقاتو سره دوکي او فريب بايد ونشي. دلته قول او عمل لېري والی او ګمان کول چي دوکه به وکړي. غلط تصور دی. پاکستان ( طالب ) د بحث قضاياو په جدا کولو همداسي دوکه کول غواړي. مسايل کېدای شي جدا جدا بحث او کل کي توافق په کار دی .بام جوړم او توافق کوم خو زينه بيا روسته غږېږو. دا خبره منطق نه لري. د امريکايی او غربي عسکرو په خروج توافق کوو خو د پاکستان د مليشو او مداخلو خبره بيا ممکن توافق وکړو. دا دوکه ده او ښکاره دوکه ده .
د جناب حکمتيار د حزب اسلامي توافقات د افغاني حکومت سره او د کابل د ادارې ددې توافقاتو کي پاتي راتلل د کابل ادارې حيثيت او صداقت ته کلکه څپېړه وه او ده.
حيثيت او اعتبار په سختی تر لاسه کېږي خو آسانه له لاسه تللای شي او ځي.

دا په قطعي ډول غلطه خبر ده چي د افغانستان د سولي خبرو کي دې مغرض همسايګانو ته فرصت ورکړل شي. د بن تجربه کفايت کوي.
د با عزته سولي، مذاکرې او مصالحي لپاره کار او هڅي د وطن د امنيتي قواو ريښتيني تقويه او د وطن د عزت او ناموس نه دفاع اخلاقي، اسلامي او انساني مبرراتو تقويه او د لوړ انساني او اسلامي مورال څخه د برخورداره کېدو سره په دي لار کي د امنيتي ځواکونو تقويه کول همدا د مصالحي د هڅو سره بايد استادانه تړاو ورکړل شي او بايد تړلي وي او دي. که دښمن ددې حالت نه منفي او معکوسه ګټه پورته کړي چي کړې، نو دا به د بد منجمنت او بدې ادارې له کبله وي او دي.
هو مونږ با عزته سوله چي هر افغان ددې وطن په سرنوشت کي د خبرو او تصميم خپل متناسب حق ولري او د افغانانو خپل مېنځي تصميم وي، غواړو .
امريکه له هر چا سره د کېناستو حق لري او طالب سره هم. اما د افغانستان د سرنوشت په هکله دريم هېواد، همسايګان او امريکه د تصميم حق نه لري .

په یقین سره وایم چي د قطر او دوحي د مذاکراتو نه د افغان کابل - افغاني حکومت د جناب خلیل زاد لخوا نه بلکي د پنجابي حکومت د برنامو او غوښتنو پر بنیاړد او پلان او د طالب له خولي بهر پاتي شواى او بهر پاتي کېدل يي غواړي. پاکستاني رياست حتی د خپل د لاس جوړ شوي د مجاهدينو حاکميت هم د ستر مشکلاتو سره مخامخ کړ. پاکستان افغانستان ته له سره حکومت نه غواړي.

روستيو حالتو او د مذاکراتو لړۍ ته په کتو زمونږ د طتلب سره د مذاکراتو د ضروت غوښتنه سخته ټکنی کوي او دا را ته يقيني کيږي چي د پاکستاني اداري پلان او برنامه د افغانستان تباهي او طالب يي آگاهانه او يا د جهالت له مخي مجري دی. خو دا دجهالت، مجبوری او اسارت فکتور او لامل د پاکستان، طالب په روابطو او اړيکو کي د تراژېدی اصلی لامل دی .

دا هم ښکاره ده چي جناب خليلزاد د خپل مأموريت د وقت د محدوديت او د جناب ترامپ د الحاح له کبله، دی او افغان لوري دغي پاکستانی لومي او تشنج ته ښکېل کړل.

امريکايي لوری، جناب خليلزاد او افغان کابل حاکميت ته په کار ده سره کېني او د همکاري او همغږی قاعدي سره روښانه کړي .

امريکه د وړو متحدو هيوادو په تهديد او د افغانستان د امنيتی سلاکار پر برطرفی تأکيد ته نبايد ټيټ شي او د استعمارگر او مستعمري اړيکي او خواص اختيار کړي .

د جناب محب د يوي برخي شخصي اظهارات، د امريکي تند او جزا ورکونکی موضع د افغانستان او امريکي د گټو پر ضد حالت دی او بهره تري پاکستاني جنرالان او تروريستان پورته کوي .

د افغان خواخوږي طالب نه غوښتنه کوو چي د پنجابي لومو ځان خلاص کړي او د افغان اولس، د مسلمانانو او بي گناه خلکو د وينو د توئيدو د ادامي مخه ونيسي .

د کابل حکومت سره خبري کول، د طالب سره خبري کول د عيني واقعيت په توگه د خپلو مشروعو اصولو تېرېدل نه دي. خو که خپلو اهداف او موخي د ټوپک له لاري تحميل غواړئ، نوبيا بله لار نه شته بي له جنگ .

زه باور لرم چي پاکستان مکار او دوکه باز حاکميت د طالب مشرانو سره سختي ناروا‌وي وکړي او ليا هم کوي. د طالب د زوی، لور، ميرمني امنيت د مرتد پنجابي پوځ لاس کي دی او طالب به هغه لوبه کوي چي د ای اس اس ساز يي غږوي. دا مشکل بايد حل شي .

زه باور لرم او ټولو مستنداتو ثابته کړي او ثابته به کړي چي ددې ټولو ناخوالو او جناياتو لامل به نور هم وي چي دي خو د پاکستاني استابلشمنټ لامل يي ډېر ستر او اساسي ثابتيږي. امريکه، نړی او افغانان دي دغه اساسي فکتور او لامل حل کړي، نور نو افغانان توافق ته په يقين (ان شاء الله تعالی) رسېدلای شي او رسيږي ۲۰۱۹/۰۳/۲۱

بي تفاوته مه پاتي کيږئ!
حق او منطق يي عام کړئ! و من الله التوفيق

## تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با "کلیکی" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به "آرشیف" شان رهنمائی شوند.

د سولي پروسه او پاکستانی مکاري لوبي!
Saidi_s_desole_prose_ao_pakistani_makarey.pdf